ماه نامه ارمان شهدأ و معلولین افغانستان

وزارت دولت در امور شهدأ و معلولین

ژمنتیا،ریښتینولي او ولس ته خدمت زموږ په کاري لومړیتوبونو کې دي!

اوله گڼه، شنبه، ۱ سنبلې ۱۳۹۹



تلاش ها در راستای ساده سازی و بررسی اسناد ادامه دارد!...۲



د اسنادو او وثیقو د څېړونکې کمېټې کاري بهیر باید چټک، روڼ او ژر نهایي شي...۳



شفافیت و تسریع در کارهای اساسی افراد دارای معلولیت...۴

# کابل ښار کې د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته کاري فرصتونه رامینځته کیږي!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې ددولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي د کابل ښاروال ښاغلي محمد داود سلطانزوی سره لیدنه وکړه .یاده ناسته کې ښاغلي لعل الدین آریوبي د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزې او غوښتنې شریکې کړې. ښاغلي آریوبي وویل، په اداره کې د درې سلنه معلولین استخدام، دولتي ادارو او خدمتونو ته د معلولینو لاسرسی او دې قشر ته د لاسي خرڅلاو د غرفو ویش باید د کابل ښاروالۍ په لومړیتوب کې وي تر څو ددوي اساسي ضرورتونو ته په وخت رسیدګي وشي .د کابل ښاروالۍ ښاروال ښاغلي محمد داود سلطانزوی له ښاغلي آریوبي څخه مننه وکړه او د شهیدانو وارثین او معلولیت لرونکي وګړي یې د هیواد ساتنې په لاره کې اصلي اتلان وبلل. ښاغلي سلطانزوی وویل، د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته د خدمتونو وړاندې کول د ښاروالۍ له اساسي او مهمو دندو څخه ده، چې په دې لاره کې یې د بشپړې هر اړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه او زیاته یې کړه چې د ښاري نظم د ساتنې په موخه د دواړو ادارو ګډ کار او همغږي به زیاته شي.









## پروسه رسیدگی به مشکلات و آوردن اصلاحات در سکتور شهدا و معلولین سریع‌تر شود.

لعل‌الدین اریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، امروز در دفتر کار شان با محترم علی اکبر جمشیدی نماینده مردم دایکندی در مجلس نمایندگان و عده‌ی از وکلای شورای ولایتی این ولایت دیدار نمودند. آقای جمشیدی از اصلاحات و پیشرفت های اخیر از سوی هیئت رهبری وزارت دولت درامور شهدا و معلولین به سطح مرکز و ولایات، قدردانی و تمجید نموده گفتند: در گذشته ها مشکلات بزرگی وجود داشت که اکنون نیاز مبرم برای از میان برداشتن این چالش ها می‌باشد. آقای آریوبی گفتند: در این اداره ایجاد اصلاحات بنیادی و شفافیت از اولویت های کاری بوده و متعد بر آن هستیم تا روند را ادامه داده و آن را سریع‌تر بسازیم.



## تلاش ها در راستای ساده سازی و بررسی اسناد ادامه دارد

نشست پیرامون بررسی وثایق و اسناد ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت با حضور داشت وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، معین پالیسی ارگانهای محل، معاون اداره امور و والیان بغلان، کندهار، هلمند، هرات، فراه، جوزجان، بامیان، کنرها، لوگر، بلخ،ننگرهار، خوست، کاپیسا،پنجشیر و غزنی دایر گردید. در نخست محترم محمد سرور جوادی معین پالیسی ارگان های محل ضمن قدردانی از تلاش های بی شایبه رهبری وزارت دولت در امور شهدا و معلولین در راستای سسیتم سازی، آوردن اصلاحات و بررسی وثایق ابراز امتنان نموده گفتند، با آوردن شفافیت و تامین عدالت در قسمت پرداخت حقوق ورثه شهدا و معلولین و بررسی اسناد، می توان اشخاص خیالی را شناسایی نمود. سپس محترم لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین از همکاری و تلاش های رهبری ارگان های محل در راستای مساعد نمودن زمینه هماهنگی با ولایات جهت محو فساد اداری و سیستم سازی سپاسگزاری نموده افزودند، پروسه بررسی اسناد ورثه شهدا و معلولین از اولویت های کاری اصلاحات ما بوده که این روند از چند ماه بدین سو در مرکز و ولایات به گونه شفاف و سریع جریان دارد که ما هدف شناسایی و باطل نمودن ۵۰ هزار اسناد غیر قانونی را تعیین نموده ایم. آقای آریوبی اضافه نمود که تا کنون از 125000 هزار اسناد بررسی شده هزارها اسناد غیر قانونی باطل شده است و یک ملیارد افغاني نیز به بودجه ملی دولت پس انداز شده است. وی از والیان خواست تا پلان شان را در این بخش با ما شریک سازند. ثالثاً محترم محمد رفیع پوپل، معاون نظارت و حراست از قانون اداره امور ریاست جمهوري هدایات جلالتماب رییس جمهور محمد اشرف غنی را با والیان ولایات شریک نموده گفتند، همه ادارات ولایتی مکلفیت دارند که تا چند روز اینده پلان عملی را جهت سرعت بخشیدن این پروسه به مقام عالی ریاست جمهور ارسال نمایند . به تعقیب محترم عمرا خان منیب مشاور رییس جمهور در امور شهدا و معلولین از پروسه بررسی اسناد و وثایق استقبال نموده گفتند، تیم نظارت در این بخش باید تشکیل گردد و جهت نظارت و ارزیابی از این پروسه عازم ولایات شوند. در اخیر والیان لوگر، بامیان، غزنی، قندهار و هرات به نوبه شان در مورد صحبت کرده و پلان و برنامه های تعقیبی شان را با همکاری آمریت های شهدا و معلولین ولایات ارایه کردند.





## د شهیدانو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو ته رسیدنه به د دواړو ادارو د مشترک کار لومړیتوب وي

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي د جمهور رییس ځانګړي استازي او د سولې په چارو کې د دولت وزیر عبدالسلام رحیمي سره وکتل او د شهیدانو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزو ته د رسېدنې او دوی ته د مناسبو امکاناتو او اسانتیاوو برابرولو په اړه یې خبرې وکړې . ښاغلي آریوبي وویل د شهیدانو کورنۍ او معلولیت لرونکي وګړي د جګړې اصلي قربانیان دي، چې ګڼو ستونزو سره مخ او د ژوند له ډېرو اړینو اسانتیاوو بې برخې دي. مهمه ده، چې دې خلکو ته د سرپناه، کارموندنې، زده کړو، روغتیا، حج سهمیو، فزیکي لاسرسي او نورو برخو کې پاملرنه زیاته شي. ښاغلي آریوبي یادو چارو ته د رسېدو لپاره پر مشترک کار ټینګار وکړ زیاته یې کړه، چې د شهیدانو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو ته رسیدګي باید د کارونو لومړیتوب وي. آریوبي څرګنده کړه، چې د سولې مشورتي لویې جرګې د پرېکړه لیک په ۱۷ ماده کې هم په دې اړه یادونه او تاکید شوی دی . ښاغلي عبدالسلام رحیمي هم د جګړې د قربانیانو کورنیو ته د رسېدنې په برخه کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د هڅو او کړنو مننه او ستاینه وکړه وویل: د دې لپاره چې د حکومت د هڅو اغېز ډېر شي، د جګړې قربانیانو ته د رسېدنې چارې د اړوندو بنسټونو تر منځ لا ډېر انسجام ته اړتیا لري. ښاغلي رحیمي هم په دې برخه کې د ګډ کار زمنه وکړه زیاته یې کړه، چې د سولې مشورتي لویې جرګې د پرېکړه لیک سره سم به د شهیدانو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو ته رسیدګي وشي.



## د اسنادو او وثیقو د څېړونکې کمېټې کاري بهیر باید چټک، روڼ او ژر نهایي شي

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي د اسنادو او وثیقو د څېړلو کمېټې غړو سره وکتل او د دوی د کاري بهیر او اجراآتو د څرنګوالي راپور یې واورېد . ښاغلي آریوبي د یادو ادارو د استازو له هر اړخیزې همکارۍ مننه وکړه وویل، چې دا د ټولو ملي او مشترک مسولیت دی، تر څو په سمه توګه د شهیدانو او معلولینو د اسنادو او وثیقو بهیر وڅېړل شي، پاک او ناک اسناد تفکیک، خدمات اسانه او په دې پروسه کې د راتلونکو ستونزو او خنډونو مخه ونیول شي. ښاغلي آریوبي زیاته کړه، چې په دې برخه کې باید یو منظم پلان ترتیب شي، څو د ورځنیو څېړل شویو اسناد او وثیقو شمېر او د دې پروسې د نهایي کېدو وخت معلوم کړي. د دې تر څنګ کاري کړنلاره هم روښانه او منظم او اسناد په څو کټګوریو ووېشل شي، چې دې سره سمه څېړنه مخکې لاړه شي. ښاغلي اریوبي څرګنده کړه، چې د دې څېړنې او ارزونې اساسي موخه د فساد مخنیوي، د بیروکراسۍ ختمول، د پاکو او ناپاکو اسنادو جلا کول، روڼتیا ټینګښت، د ممکنه ستونزو، ننګونو او د ناقانونه کړنو مخنیوی دی . ښاغلي آریوبي د کمېټې غړو ته د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړل زیاته یې کړه، چې تاسې صلاحیت لرئ او هیڅوک حق نه لري، چې ستاسې په چارو کې لاسوهنه وکړي. تاسې باید دا بهیر چټک او روڼ کړئ تر څو مطلوبه پایله ترلاسه کړو . د کمېټې غړو هم د کارې بهیر د لا ښه والي او چټکتیا په موخه خپل نظرونه، ستونزې او وړاندیزونه د وزارت مشرتابه سره شریک کړل . د یادونې وړ ده، چې د اسنادو او وثیقو د څېړنې کمېټه د جمهور رییس د حکم پر بنسټ د (سترې محکمې، لوېې څارنوالۍ، مرکزي احصایې، ملي امنیت عمومي ریاست او د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت) استازو څخه جوړه شوې ده، چې د شهیدانو او معلولینو د اسنادو او وثیقو د څېړنې او ارزونې مسولیت لري او تر دا مهاله یې ډېر شمېر اسناد او وثیقې څېړلې او ارزولي دي.





## سرپل ولایت کې به د شهیدانو او معلولینو اړوند چارې چټکې او روڼې شي

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي د سرپل ولایت والي ښاغلي عبدالقادر آشنا سره وکتل. ښاغلي آریوبي د وزارت د پخواني وضعیت، اوسنیو فعالیتونو، لاسته راوړنو، اصلاحاتو، سیستم جوړونې په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې وویل، په مرکز او ولایتونو کې له پخوا پاتې فساد او بیروکراسي ته ډیره له منځه تللې او د وثایقو د څېړنې پروسه هم په چټکه توګه مخته ځي. ښاغلي آریوبي ډاډ ورکړ، چې سرپل ولایت کې به د شهیدانو کورنیو او معلولینو ستونزو ته رسیدګي وشي او د دوی اړوند چارې به نورې هم چټکې او روڼې شي. د سرپل ولایت والي ښاغلي عبدالقادر آشنا د وزارت د رهبرۍ ترسره شوې کړنې او پلانونه د وزارت، د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو لپاره اغېزناک وګڼل وویل، چې یاد ولایت کې داسې ګڼ شمیر اسنادونه تثبیت شوي چې په ناقانونه توګه جوړ شوي وو، ښاغلي آشنا زیاته کړه چې، د اصلاحاتو لړۍ د دوام او ملاتړ ته اړتیا ده تر څو پاتې ستونزې هم هوارې او بشپړه روڼتیا رامنځته شي.



## شفافیت و تسریع در کارهای اساسی افراد دارای معلولیت

والی ولایت زابل با وزیر دولت در امور شهدا و معلولین دیدار نمود. محترم محمد نبی احمدزی والی زابل همراه با لعل الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، روی موضوعات مهم و اساسی در رابطه به معلولیت و نیازمندی های ورثه شهدا دیدار و گفتگو نمودند. آقای احمدزی ضمن تمجید از کارکردها و روند اصلاحات و سیستم سازی در این وزارت، مشارکت افراد دارای معلولیت و فامیل های شهدا را در جامعه اصل دموکراسی و حقوق بشری عنوان نموده گفتند: با پرداخت تخصیص و حقوق ۱۳۹۹ شهدا و معلولین نظامی می‌توانیم به نیازهای مبرم آنان رسیدگی نمائیم. وی روی توزیع زمین و اعمار شهرک ها به همکاری وزارت شهرسازی و اراضی برای افراد دارای معلولیت و ورثه شهدا یاد آور شده و افزودند، با تهیه مسکن به آنان می‌توان به بزرگ ترین مشکلات شان پایان داد. ایشان روی آوردن شفافیت بیشتر و تسریع برسی اسناد و وسایق تاکید نمودند. محترم لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین روی تطبیق سیستم او ایجاد شفافیت در پرداخت حقوق ورثه شهدا و معلولین معلومات ارایه نموده گفت، وزارت دولت در امور شهدا و معلولین پروژه های اساسی و دراز مدت را روی دست دارد و در همکاری و هماهنگی با ادارات دولتی به مشکلات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت رسیدگی خواهد شد. ایشان بررسی اسناد و وثایق ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت را از اولویت های کاری این اداره خطاب کردند.





## روند ساده سازی سیستم و مبارزه با فساد نماینگر پیشرف در زندگی ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت می‌باشد

وزیر دولت در امور شهدا و معلولین با عده ای از شخصیت های سیاسی و اجتماعی کشور عرض آوردن اصلاحات و پیشرفت در زندگی ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت دیدار نمود. لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین با محترم آرمان مشاور ارشد رئیس جمهور در امور اجتماعی و محترم فوزیه سادات ځمکني سناتور از ولایت پکتیا دیدار نمودند. آنان از کارکردها، اصلاحات و آوردن شفافیت و ایجاد سهولت ها در شعبات کاری مراجعین این وزارت تمجید و قدردانی نموده و پیش رفت این روند را در حقیقت پیشرفت و تغییر مثبت در زندگی ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت عنوان کردند. در این نشست روی مسایل همچون پرداخت حقوق سال های باقی مانده ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت، تغییر در زندگی اجتماعی آنان و فراهم نمودن زمینه تحصیل نیز بحث صورت گرفت. لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین اشاره بر تقویت روند تغییرات سیستم سازی این وزارت و حمایت اقتصادی و فزیکی در زندگی فامیل های شهدا و افراد دارای معلولیت نموده و نیز تاکید روی حمایت سایر ادارات نمود.





# د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د بیرغ ملي ورځ ونمانځله

سه شنبه د زمري اوومه، چې د بیرغ ملي ورځې سره برابره ده، د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د بیرغ ملي ورځ د یوې شانداري غونډې په ترځ کې ونمانځله. د نمانځنې په دې غونډه کې د وزارت د رهبرۍ غړو، کارکوونکو او ځینو بهرنیو مېلمنو ګډون درلود . په پیل کې د فرهنګي چارو سلاکار د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت د وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي پیغام ولوست، چې پکې یې هېوادوالو ته د دغې پرتمینې ورځې مبارکي وویلې وه او د بیرغ ساتنې او دفاع په برخه کې یې د شهیدانو د کورنیو، معلولیت لرونکو وګړو، امنیتي او دفاعي ځواکونو سرښندنې او قربانۍ ستاینه کړې وه . د وزارت د تخنیکي چارو مرستیالې جمیلې نورستانۍ ټولو ګډونوالو ته د بیرغ د ملي ورځې مبارکي وویله او دا یې د هر افغان لپاره احساس پارونکې ورځ وګڼله، وویل ملي بیرغ زموږ ملي هویت او د ملي یووالي سمبول دی. بیرغونه ملتونه د خپلو ملي ګټو ساتنې لپاره تر یو چتر لاندې راټولوي او د دې تر څنګ یو نړیوال پېژاند دی . د ټولنیزو خدمتونو رییس سید عالم هاشمي هم په خپلو خبرو کې دغه ورځ د افغانانو ویاړ وګڼه او ټولو ته یې د دې ورځې په مناسبت مبارکي وویله . امنیتي ځواکونو ملي بیرغ ته د درناوي په موخه مارش ترسره او سیف الرحمن عیار لمر د بیرغ په مناسبت خپل شعر ګډونوالو ته واوره چې د ټولو احساسات یې راوپارول.





# پیام تبریکی به مناسبت هفت اسد روز ملی بیرق

روز ملی بیرق را به همه هموطنان عزیز خصوصآ به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت تبریک و مبارک باد عرض می‌دارم. بیرق ملی باعث افتخار، هویت، ارزش، عزت و سمبول اتحاد ما بوده که پاسداری، دفاع و احترام از آن مسوولیت مشترک ملی همه ما می‌باشد.از ورثه معظم شهدا، افراد شجاع دارای معلولیت و نیروهای امنیتی و دفاعی کشور ابراز امتنان و تشکری می‌نمایم که بخاطر درفشش، بلند نگهداشتن و پاسبانی از این نشان ملی و همچنان جهت آسوده زیستن ما، جان های شیرین خود را فدا نمودند و هم اعضای مهم بدن شان را از دست دادند و در این راه آماده فداکاری و جان بازی های بیشتری نیز اند. به آرزوی یک افغانستان سربلند و خود کفا! با احترام لعل‌الدین آریوبی
وزیر دولت در امور شهدا و معلولین



## د هېواد نظامي شهيدان او معلولين زموږ اتلان دي

د شهيدانو او معلولينو په چارو کې د دولت وزير لعل الدين آريوبي د هېواد د نظامي شهيدانو يو شمېر وارثينو او معلولينو سره وکتل. په دې ناسته کې د نظامي شهيدانو او معلولينو چارو د انسجام معينې صبري اندړ هم ګډون درلود.د نظامي شهيدانو وارثينو او معلوليت لرونکو وګړو د خپلو حقوقو او دوی ته د حکومت د پاملرنې، امکاناتو او اسانتياوو زياتېدو اړه خپل نظرونه او وړانديزونه د وزارت مشرتابه سره شريک کړه . ښاغلي اريوبي د نظامي سکتور شهيدان او معلولين د هېواد او ولس اتلان وګڼل وويل، چې قرباني به يې نه يوازې دا چې هيڅ کله هېرې نه شي بلکې تاريخ کې به په زرينو کرښو ثبت او راتلونکو نسلونو ته به د وطن ساتنې او دفاع بېلګه وګرځي. ښاغلي آريوبي زياته کړه، چې جمهور رييس هم دې قشر ته ځانګړې پاملرنه لري او دوی ته د ښې رسېدنې په موخه يې د نظامي چارو د انسجام معاونيت رامنځته او صبري اندړ يې معينه وټاکله .آريوبي ډاډ ورکړ، چې د دوی ستونزو ته رسيدګي يې لومړيتوب دی او په دې برخه کې به له هيڅ ډول هڅو دريغ ونه کړي.





## د هيواد د خپلواکۍ بيرته ګټلو د ۱۰۱مې کليزې په مناسبت د مبارکۍ پيغام!

د شهيدانو او معلولينو په چارو کي د دولت وزارت رهبرۍ پلاوی او کارکوونکي د هيواد د خپلواکۍ بيرته ګټلو ۱۰۱مې کليزې په وياړ د شهيدانو کورنيو، معلوليت لرونکو وګړو او ټولو سوله خوښو هيوادوالو ته مبارکي وايي. د زمري ۲۸مه، د افغانستان په تاريخ کې نه هيرېدونکي زرينه پاڼه ده، چې زموږ نيکونو د خپلو تورو، ځاني او مالي قربانيو پر مټ د نړۍ لو ښکيلاک او زبر ځواک مات او هيواد يې د بشري خپلواکۍ څښتن کړ. په درنښت لعل الدين اريوبي

د شهيدانو او معلولينو په چارو کي د دولت وزير



## همه برنامه های اصلاحی و اجراآت به هدف بهتر شدن زندگی ورثه شهدا و معلولین انجام می‌پذیرد

رئیس و اعضای شورای اجتماعی سراسری افراد دارای معلولیت افغانستان، با لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین دیدار نمودند و روی یک سلسله موضوعات صحبت شد.محترم مسعود صافی رئیس شورای اجتماعی سراسری معلولین افغانستان ابراز امتنان نمود که فرصت مناسب جهت شریک سازی و راه های حل آن با هئیت رهبری وزارت مساعد گردیده است. آقای صافی افزود، مشکلات، پیشنهادات و خواست های خود را مطابق قانون و اصول با وزارت شریک ساخته و برای پیدا کردن راه های حل آن به گونه مشترک و هماهنگی بیشتر با وزارت همکاری می‌نماییم. وی علاوه کرد که، از پروسه اصلاحات جاری حمایت نموده و این خواست ما معلولین می‌باشد که شفافیت کاملا تامین گردد. آقای صافی بر علاوه صحبت در مورد هماهنگی و یک پارچه‌گی بین وزارت و شورای سراسری معلولین افغانستان، تاکید روی چگونگی کسب مشوره معلولین در کمیته های برسی اسناد نیز نمودند. آقای صافی تعهد همکاری همه جانبه با رهبری وزارت را دادند.عده از اعضای شورای متذکره در این نشست صحبت نموده و نظریات شان را با رهبری وزارت شریک ساختند و در کنار آن بعضی از پیشنهادات شان را مبنی بر اشتراک معلولین در پروسه صلح، کاریابی، تطبیق تفاهم نامه با شاروالی کابل، پرداخت حقوق، شامل سازی آنان در تصامیم، استخدام مشاوران در ادارات دولتی، کسب تحصیل، محوی تبعیض، ساخت کلینیک و آسایشگاه ویژه برای معلولان، توضیع آپارتمان ها و زمین، تعقیب فعالیت های موسسات مرتبط به معلولیت، نهایی سازی کارهای فدراسیون ملی معلولین و سایر موارد اظهار نمودند .آقای آریوبی از حمایت و همکاری شورای مذکور ابراز تشکری و امتنان نمود و معلومات همه جانبه در مورد کارهای انجام شده و اصلاحات جاری در این وزارت را تقدیم آنان کرد و گفتند: اشتراک معلولین در پروسه صلح، تعدیل قوانین، ختم تبعیض، اعمار آسایشگاه در زون ها، استخدام مشاوران در ادارات دولتی، کاریابی، سهمیه های حج، ساخت فدراسیون ملی معلولین و در سایر بخش کار و پیشرفت های قابل دیدی انجام شده و نتایج آن آشکار و روی دست می‌باشد .آقای آریوبی اضافه نمود که، زمینه در راستی اشتراک، تصمیمی گیری ها و نظرخواهی معلولین در بعضی موارد برابر شده است؛ تا همه کارها و امورات را از نزدیک نظارت نمایند و در بعضی بخش ها طرح های اساسی شان را پیشکش بدارند.





## په ولایتونو کې دې د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو ورثې ته د رسېدنې لپاره همغږي زیاته شي

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې رییس شمیم خان کټوازي سره وکتل .ښاغلي آریوبي شمیم خان کټوازي ته د نوي مسولیت مبارکي وویله او تر څنګ یې په ولایتونو کې د شهیدانو د کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزو ته د رسېدنې په اړه د همغږۍ او همکارۍ په لا ټینګښت هم خبرې وکړې. ښاغلي آریوبي وویل، چې ولایتونو کې دې د معلولینو د درې سلنه ګمارنې، فزیکي لاسرسي او دوی ته د نورو اسانتیاوو برابرولو لپاره اړینې همکارۍ ته اړتیا ده، چې د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې نوې رهبرۍ کې یې د ترسره کولو لېوالتیا ډېره محسوسېږي. ښاغلي آریوبي ټینګار وکړ، چې ولایتونو کې دې د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو ورثې ته د رسېدنې لپاره همغږي زیاته شي.د سیمه ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې رییس شمیم خان کټوازي معلولینو او د شهیدانو کورنیو ته ترسره شوي خدمتونه اغېزناک وګڼل او د دوام هیله یې څرګنده کړه. نوموړي ډاډ ورکړ، چې په دې برخه کې به هر اړخیزه همکاري وکړي او په مشترکه توګه به د دغه مستحق قشر د ستونزو د حل او دوی ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو لپاره کار وکړي.





## معاون امور نظامی بر تسریع روند کاری کمیته های بررسی اسناد ورثه شهدا و افراد دارای معلویت تاکید نمود

جلسه پیرامون تسریع روند کاری کمیته های بررسی و تدقیق وثایق ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت تحت ریاست صبری اندر معاون امور نظامی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین با حضور نمایندگان اداره امور ریاست جمهوری و ستره محکمه دایر شده و در مورد چگونگی تسریع روند کاری کمیته های بررسی و تدقیق وثایق ورثه شهدا و اسناد افراد دارای معلولیت صحبت نمودند. معاون امور نظامی ضمن تاکید بر تسریع و افزایش زمان کاری کارکنان کمیته های بررسی اسناد ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت افزود؛ برای افزایش موثریت و انجام به موقع امورات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت باید پلان کاری منظم با اشتراک نمایندگان ادارات نامبرده ترتیب و تهیه شود و بر اساس آن عمل شود .معاون امور نظامی همچنان یادآور شد که باید نیازمندهای کمیته های کاری رفع شود و تعداد کارمندان تذکره های الکترونیکی نیز افزایش پیدا کند . نمایندگان اداره امور ریاست جمهوری و ستره محکمه نیز بر فعالیت های مشترک و انجام مسوولیت مربوطه تاکید و تعهد نمودند.





## د نظامي شهیدانو او معلولینو د اسنادو د ترتیب بهیر کې دې ستونزې په نښه او

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د نظامي شهیدانو او معلولینو چارو د انسجام مرستیالې صبرې اندړ د نظامي شهیدانو او معلولینو د اسنادو د ترتیب او روښتیا په موخه د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او ملي امنیت عمومي ریاست استازو سره وکتل . آغلې اندړ د نظامي شهیدانو او معلولینو د اسنادو په ترتیب کې د شته ستونزو پر حل ټینګار وکړ او د یادو نظامي ارګانونو څخه یې غوښتنه وکړه چې د نظامي شهیدانو او معلولینو د هویت اسناد دې په سمه او شفافه بڼه ترتیب شي، تر څو یاده پروسه په بشپړه توګه رڼه او منظمه شي. نوموړې په دې برخه د یادو ادارو تر منځ د همغږۍ پر پیاوړتیا هم تاکید وکړ. اندړ زیاته کړه، چې د اسنادو د روښتیا لپاره هڅې کوي او غیر قانوني او غیر مستحق خلک به له سیستم څخه وباسي تر څو مستحقو خلکو ته حقوق او نور امتیازات په وخت ورسیږي.





## د مشرانو جرګې له لوري د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او د نظامي چارو د انسجام معاونیت د رامنځته کېدو د تصویب په اړه اعلامیه

د هېواد مشرانو جرګې د جرګې په عمومي غونډه کې د جمهور رییس د (۱۳۹۷/۱۰/۲۹) نېټې د (۱۳۲) ګڼې فرمان پر بنسټ رامنځته شوې (د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو ورثې د ملاتړ ملي اداره) د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت په نامه بدله او د دې تر څنګ یې د دې وزارت د نظامي معلولینو او شهیدانو چارو د انسجام معاونیت رامنځته کېدل تصویب کړه. د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت رهبري د هېواد د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو ورثې په استازولۍ د مشرانو جرګې له مشرتابه او ټولو غړو او همدارنګه په پارلماني چارو کې د دولت وزارت له همکارۍ او هلو څلو د زړه له تله مننه کوي، چې دغه بې ساری ګام یې پورته کړ او دې مستحق قشر ته یې خپله ژمنتیا عملاً په اثبات ورسوله. معلولیت لرونکي وګړي او د شهیدانو ورثه د ټولنې د نورو وګړو په خېر فوق العاده وړتیاوو څخه برخمن دي؛ برابرو حقونو، امکاناتو او اسانتیاوو ته اړتیا لري. دغه وزارت به د یوه ملي او انساني مسولیت او د مشرانو جرګې د باور پر بنسټ د دوی ټولو ستونزو ته د رسېدنې او حل لپاره هر کار وکړي، تر څو شته ستونزې حل او کارنده فرصتونه رامنځته کړي.

## ۳۲ فامیل ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت کمک دریافت نمود

آمریت امور شهدا و معلولین ولایت پروان به همکاری موسسه »کمک «روز چهارشنبه مورخ ( ۲۹ ) اسد برای (۳۲) فامیل ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت مواد خوراکی توزیع نمود .این کمک ها به افرادی که اخیرا در اثر جنگ و نا امنی در ولسوالی های بگرام، کوه صافی، سیاه گرد و مرکز پروان متضرر شده بود، صورت گرفت . این کمک ها باحضور داشت معاون مقام ولایت پروان و نماینده موسسه نامبرده توزیع گردید.



